# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |

چانګ چیه چنګ
ژباړه: فرهاد ویاړ
۲۹ سپتمبر ۲۰۱۷

## نورمن بسیون په چین کې

**(۸)**



روغتیایي ټیم په سلامتی د **سوکانګ** کلي ته ورسید. ملګري بسیون ټوله ورځ کار وکړ، خو کار لا پاتی و. روغتیایي ټیم د شپې لخوا باید د دښمن برید ته هم پام کولی. بی له دې چې جامې بدلې کړي، بیده شول؛ آسونه یې هم چمتو درولي وو.



د سباني ورځ په سهاريو کليوال د کلي په لوديځه برخه کې د دښمن د پوځ له يوې ډلې سره مخامخ شو. دښمن له هغه وپوښتل:« د سوکانګ کلي ته کومه لاره ځي؟» کليوال بزګر په ډېر جرئت او ډاډ سره دښمن ته چال ورکړ او د شمال خوا ته يې واستول. وروسته له هغه، بزګر په بيړه د سوکانګ کلي ته لاړ او روغتيايي ټيم يې خبر کړ.



څه کم يو ساعت کې، روغتيايي ټيم سوکانګ پريښود او خلکو ټيپان په خپلو کورونو کې پټ کړل. ملګري بسيون په خوشالۍ وويل:« پلی اتم پوځ د ماهي په شان دی چې د انسانانو په سمندر کې لامبو وهي. دا ډول پوځونه هيڅکه ماته نه خوري.»



ملګری بسيون په مرکزي **هوپي** کې ځلور مياشتې په روغتيايی چارو بوخت و. د **شانسي – چاهار - هوپي** د ګوند کميټې هغه ته بلنه ورکړه چې د ناظر په ډول په کنګره کې ګډون وکړي. ملګري بسيون دا بلنه په خوشالۍ ومنله او په بيړه يې د هوپي لوديځ لورې ته حرکت وکړ.



له لمر پریوتو سره سم، یوه ورځ روغتیایي ټیم هغه کلي ته ورسید چې د دښمن خط  یې مخې ته پروت و. بسیون هغه بزګر ته پام واوښتو چې یوه عفوني او میکروبي دانه یې پر سینه وه. بسیون له خپلو ملګرو وغوښتل چې ودرېږي څو هغه وکړای شي د ناروغ سینه  جراحي کړي.



دا کلی د **پیپینګ – هانکو**  د ریل پټلۍ ته نژدې او بلکل د کلابندۍ د خط تر څنګ پروت و. د امنیت لپاره، مل پوځي ډلې، د ګوند د مخفي سازمان په مرسته د جراحۍ سیمه په خپل کنټرول کې ونیوله. د جراحۍ عمل یوازې شل دقیقې دوام وکړ او بزګر چې له رنځ خلاص شوی و، ډېر زیات خوشاله شو.



روغتیایي ټیم د خلکو په ملاتړ د دښمن له محاصرې په سلامتۍ تیر شو.




د جولای په لومړۍ، ملګري بسیون د سرحدي سیمو په ګوندي کنګره کې ګډون وکړ. په دې ناسته کې یې په خوښۍ او ښادۍ سره وویل:«هغه جګړه چې تاسو مخې ته بیایی، یوه عادلانه جګړه ده او تاسو په هیڅ ډول یوازې نه یاست. د ټولې نړۍ ولسونه له تاسو سره دي.»